# Pashto as a Market language: An Analysis
# پښتو د مارکیټ ژبه

**Said Ul Amin Ahsan Kheshgi*** 

ABSTRACT:

Renaissance (14th-17th Centuries), and Industrial Revolution (1760-1820, and 1850) have everlasting impacts on human life. Revolutionizing all under the sun, they made human minds more pragmatic and materialistic. Commercialization and mass productivity gave birth to Consumerism (17th -18th) and market accessibility that influenced urban and rural life alike. Resultantly, it caused establishment of a far-different, but comparatively rich and commanding market language. The perpetual process of outshining the less- developed by more hegemonic and industrialized contemporary societies was in place. Consequently, the more a nation was ahead in race of inventions, technological advancement and productivity, the more they enriched their language .Inevitably, monopoly at the market was and is still considered monopoly of the language. To trace out such findings and progression of market languages, an attempt has been made for carrying out an analytical study, to unearth how and what strategies had been devised, for gaining supremacy and current status for the purpose. Besides comparison, taking it as a yardstick for Pashto as a market language, a short historical background, required initiatives in current scenario, and for putting it on the track, some suggestions for improvement, equality, flourishment of Pashto as a market language are proposed in the lines below.

**Key Words**: Pashto, Market, Trade, Market Language.

فرانسیسي-الجیریائي فلاسفر ژاک دِریده( ۱۵ جولائي ۱۹۳۰-۹اکتوبر ۲۰۰۴)خپل یو قول کښې د ژبې په باب داسې ګویا دے .

"We are given over to absolute solitude. No one can speak with us and no one can speak for us; we must take it upon ourselves, each of us must take it upon himself."

* Said ul Amin Ahsan Khusaki, Civil Servant

ترجمه: مونږه مطلق يوازي والي ته سپارلي شوي يو ،نۀ څوک مونږ سره خبرې کولے شي او نۀ زمونږ د پاره،مونږ له ضرور دا په خپله کول دي ،زمونږ نه هر يو کس دې دا په خپل ځان واخلي۔

انساني ارتقا په هردور کښې خپل سفر جاري ساتلې دې او هر ځل ئې د اجتماعي ودې او پرمختګ نوې لارې او مرامونه په ګوته کړي دي۔ دغه هڅه که د زمکې په يوه برخه کښې ظاهرا د جمود ښکار شوې ده، نو بله حصه کښې ئې دحرکت نوې روداد رقم کړې دې۔ دا عمرانياتي سفر کله په انفرادي توګه يو وګړي جاري ساتلې دې او مثبت اثرات ئې په کلهمه نړۍ پرېوتې دي او کله په اجتماعي توګه د يو سماجي،ثقافتي،معاشي او سياسي تحريک په شکل کښې د انساني ژوند د بقا او اسانتيا نور اسباب راپيدا کړي دي۔ او ثمرات ئې په معاشي توګه وړاندې طبقو نه علاوه محرومو او محتاجه طبقو هم تر لاسه کړي دي۔

د معاشرت نه علاوه معيشت د انساني ژوند په سوکالۍ او ترقۍ کښې اساسي کردار ترسره کوي،ځکه نو کومو قامونو چې معاشي استحکام حاصل کړےدے هغوي په وروستو پاتې قامونو نۀ صرف دا چې سياسي او ثقافتي برتري حاصله کړې ده بلکې په معاشي مېدان کښې هم د سيادت او قيادت علمبردار پاتې دي او نتيجتاً د هغوي ادب،ژبه،ثقافت ،علميت،تحقيق او طرز فکرد نورو د پاره د پرمختګ دليل او د تتبع معيارات ګرځېدلي دي۔

مونږ د تمهيد نه پس دموضوع تر مخه د مارکيټ يا مارکېټينګ لږ مختصر تاريخي پس منظر هم بيانو چې کوم عوامل وۀ چې تجارت ئي د عاميانه او روايتي مېدان نه بهر راووېستو او د نوو او جديدو رجحاناتو او تصوراتو سره ئې متعارف کړو او بيا په دې عمل کښې د ژبې او ثقافت څۀ رول او کردار وو؟۔ دنور بحث کولو نه مخکښې دلته د اخبره د ياد وړده چې پښتو د مارکيټ د ژبې په حيث مونږ سره روايتي او جديد دواړه تصورات وجود لري ،پښتانۀ چونکې تر پېړو پېړو په يو قبايلي نظام کښې پاتې دي ،ځکه نو ددوي ژبه تر ډېره حده ددوي د منطقو پورې محدوده پاتې ده اګر که د ترسيل ،سفر او تجارت،اود قيادت او سيادت هلو ځلو بهر خلقو سره هم متعارف کړې ده او يا پرې د مذهبي او سياسي مقاصدو ترلاسه کولو دپاره تحقيق هم شوے دے۔ په دغه قبيلوي نظام کښې د محترمو کسبګرو او هنرمندو ژبه هم هغه وه کومه چې په هغه دور کښې مستعمله

وه،خو چونکې ضرورتونه محدود او کم وۀ نو ژبې دومره خصمانه او توجه نۀ غوښتله او په منډهۍ،بازار،او تجارتي مېلو کښې غېر محسوس طريقو سره د ارتقا دغه سفر جاري وۀ۔ د اوزارونو نومونه هم هغه وۀ کوم چې دوي نومول،البته د لفظياتو او صوتياتو لهجوي او علاقايي فرق موجود وۀ،او د وخت تېرېدو ،او دمالي او معاشي ضروورياتود زياتيدو سره د نوې رجحاناتو ارتقائي سفر روان او جاري وۀ،په يوه غېر محسوس طريقه سره د نوو توريو او اصطلاحاتو د شکست او ريخت او ترک او انضمام عمل روان وۀ۔

د تاريخ په اوږدو کښې که د افغانستان نه د هند د اسلامي سلطنت د بقا دپاره د پښتنو يرغل کول وۀ،اوکه هندوستان نه دلته د پښتنو په زمکه د سيکانو د ظلم او زياتي خلاف د تحريک شهيدېن مبارزه وه، که د فېرنګيانو دلته راتګ وۀ او د هغوي په ضد د خدائي خدمتګارو د مزاحمت عمل وۀ، که بيا د مستشرقينو د پښتنو په تاريخ،ثقافت او ادب کار او تحقيق وۀ، او که په تېرو لسيزو کښې په افغانستان کښې راپېښې او رواني شخړې وې ،د ټولو د پاره پښتو ژبې د مارکيټ د ژبې کار کړې وۀ،

خو بل اړخ ته په تېره اوروانه پېړۍ کښې افغانستان کښې چونکې پښتو ته باقاعده دولتي او سرکاري مرسته حاصله وه نو هلته که يو اړخ ته ژبه سوچه او ساهو پاتې ده نو بل اړخ ته پښتو د مارکيټ ژبه جوړولو کښې هم د ستاينې وړ کار شوې دي۔ اګر که په لسانياتي توګه دا تنقيد کېږي چې افغانستان کښې ددري او نورو ژبيو په اتباع کښې په غيرضروري توګه اصطلاحات او ټکي ساز شوي چې نورو پښتنو ته ورباندې پوهېدل کله کله ګران شي ۔خود اصطلاحات سازۍ دا عمل نورو ژبيو کښې هم ترسره شوي دي ، او لا روان دے۔

د پښتو دتشهير دژبې په حېث لنډ تاريخ کښې مونږ ته دمۍ دمياشتې کال نولس سوه اتۀ ويشتم(۱۹۲۸ع)'پښتون' ګڼه وړومبي جلدکښې دااشتهارپه نظر راځي،'په سود سودا کښې دوه خبرے ياد لرئ،يوه داچې دُکاندار دِ مسلمان وي او بله داچه سودا ارزانه ورکوي ،ددې دواړو خبرو دپاره دقصه خوانۍ بازار َکښ بشير ستهورنوم ئې دکان دے چې هلته ستاسو دکار هرشے ښۀ او ارزان لاس ته راځي۔۔۔'دافغانستان نه دمهاجرت تر سببه مونږ په وړومبي ځل د پېښورلوے بازار کښې د،'لطيف د کتابونو غټ دوکان' بورډ وليدو چې د پښتنو په ښار کښې ئې د پښتو د يوې کاروباري ژبې په توګه خپله موجودګي نوره هم باوري کړهدغسې هم د دوي په تتبع کښې دغه عمل نورهم دوام وموندو ۔ ،دا خبره به بې

ځایه نۀ وي چې د افغانانو ورونو پېښور او د پاکستان نورو برخو ته راتګ، په مارکیټ او کاروباري ځایونو کښې د اردو،او دپېښور خلق په فارسۍ زده کولو مجبور شوۀ، او په دغه اوان کښې لکه د اردو د ورومبي مغلوالۍ ددور یوه مشترکه کاروباري ژبه په وجود کښې راغله چې اصل ئې پښتو وۀ۔ او دا تر اوسه په پېښور او نورو ځایونو کښې په خام شکل کښې وئېلې او اوریدي شي ۔ بل اړخ ته په افغانستان کښې په تجارتي،صحافتي،سیاسي،تعلیمي،ابلاغیاتي،سائنسي او طبي علومو کښې او د هغې د پاره په اصطلاحاتو کښې ډېر کار شوے دے او دا رنګ پښتو ته ئي په مارکیټ کښې ځاے ورکړې دي،او تر ډېره حده پښتو هلته د مارکیټ ژبه ګرځېدلې ده۔ په بلوچستان کښې د پښتنو او بلوچو په سیمو کښې په کاروباري مرکزونو کښې پښتو یو شان د کاروبار او تجارت د ژبې په حېث وجود لري۔ هم دغه رنګ د ملک په کچ په مذهبي اجتماعاتو کښې هم پښتو د کاروبار او مارکیټ د ژبې په شکل کښې موجودګي لري۔ د افغانستان په عکس، پاکستان کښې مونږ سره پښتو نۀ خو په کُلي توګه د اکتساب ژبه ده او نۀ داقتصاد او کاروبار – او څنګه چې د پښتنوعلاقې د مطلوبو هنري مرکزونو او کارخانو نۀ لرلو په وجه د خام مال د پاره شهرت لري،دغسي د دوي ژبه هم په مارکیټ کښې د خام عنصر په په مثال ګڼلې شي، ۔تدریس او تعلیم په مېدان کښې د سرکاري تعلیمي ادارو سره سره په غیر سرکاري او نجي تعلیمي ادارو کښې د پښتو د زده کړې د پاره موجود ناکافي انتظامات د ژبې د ودې او ښېرازۍ تقاضې نۀ پوره کوي ۔ نوپه داسې ناموافقه حالاتو کښې پښتود مارکیټ ژبه جوړیدو د پاره ورته د حکومتي مرستې هم زیات ضرورت دے او د وګړو د انفرادي هڅو او تنظیمونو د اجتماعي کوششونو توجه هم۔ دحکومت له اړخه عدم توجهۍ نورې پاکستاني ژبې هم د دغه حالاتو سره مخ کړې دي۔ پنجابي ژبه د عددي اکثریت او سندهي د آئیني او ریاستي تحفظ په بنیاد د پښتو نه په دې مېدان کښې زیاتې وړاندې ښکاري۔ د بلوچۍ ، سرائیکۍ او نورو ژبو حالت نور هم خراب دے۔ په عمومي توګه د ژبې په باب دا هم وئېلې شي ،چې هغه ژبه باقې پاتې کېږي چې د شمېر دپاره ئې خپل اعداد او الفاظ پکارولے شي۔ مونږ سره پښتو کښې د شپږو شلو او اتو شلو شمېر ډېروړاندې ختم شوے دے۔

پښتو به د مارکيټ ژبه هله جوړيږي چې پکښې د روزګار موقعې پېدا کړې شي څنګه چې نورو ژبيو کښې دي،لکه د تعليم او تدريس مېدان کښې، د رېډيايئ او الېکټرانک او پرنټ مېډيا په مدونو کښې، او په بين الاقوامي تجارتي،سياسي،او سفارتي شعبو کښې چې ژبه دومره افاديت ولري چې خلق ئې زده کړې او تحصيل ته وپسخبږي،د تدريس په شعبه کښې د لېکچررانو،پروفېسرانو،او د دمضمون دماهرانو منصبونو خلقو ته د روزګار موقعې په لاس ورکړې،او دا رنګ خلق ورته رامات شول.په سفارتي حلقو کښې ترجمانۍ او ژباړې هم د ژبې د پاره په مارکيټ کښې نوي امکانات پېدا کړل.قامي او بېن الاقوامي ميډيا د خپلو ضرورتونو د پاره دپښتو فنکارانو،تجزيه کارو او ليکونکيو ته خپلې لارې خلاصې کړې،او د پښتون ثقافت په ګڼو اړخونو بېش بها خو ناکافي تحقيق او کار وشو.د دغسې د پاکستان او افغانستان په سرحدي پولو د تجارتي سرګرميو نه علاوه،په نورو تجارتي مرکزونو کښې چرته چې پښتانهٔ ژوند کوي،پښتو دمارکيټ ژبه ده. په مقامي توګه د کليو او ښارونو په کاروباري او تجارتي مېلو کښې پښتو په غېر محسوس طريقې سره خپل دغه ارتقائي سفر جاري ساتلے دے.

په لسانياتي توګه د افغانستان په پښتو کښې د کاروبار،زيست او ژواک،او شريکو معاملاتو له رويه ددري،روسي،ترکي ، فرانسيسي او نورو مقامي ژبيو لکه پشائي ،بلوچي او ازبکي توري شمول لري، دغسې د پاکستان د خېبر پښتونخوا پښتو کښې د اردو او انګرېزۍ زيات توري پکارولے شي او په هزاره، د نوښار په اکوړې، جهانګيري، پېښور ښار او کوهاټ سېمو کښې د هندکو الفاظ هم په مقامي مارکيټ کښې پښتو کښې سماعت کښې راځي. دغه شان د بلوچستان په پښتو کښې د تجارتي تعلق او تماس له وجې د بلوچۍ او براهوۍ الفاظ شامل دي.او له دې اخذ او قبول نه خلاصې نشته،ځکه چې هم دغه اثر او عمل په نورو عالمي او مقامي ژبيو کښې هم دې او هم په دې وجه ژبې دواميت لري او وده کوي.البته په باجوړ،مهمندو،وزيرو او محسودو،افريديو، شنواريو، اورکزيو کښې او د تورغر په يوسف زيو کښې د محدودو تجارتي سرګرميو له وجې پښتو د مارکيټ د ژبې په حېث نسبتا خالصه پاتې ده. په ډېره اسماعيل خان کښې سره ددې چې پښتو د مارکيټ ژبه ده او مېشتهٔ وزير او محسود ئې هم پکاروي خو د مقامي سرائيکي او تر يو قليل حده بلوچي ويئونکيو ذخيره الفاظ هم د پښتو برخه ګرځي . هم په دغه قرينه په

کراچۍ کښې د ژوند کوونکيو پښتنو د مارکيټ په ژبه پښتو کښې د سندهۍ لفظونه هم په سماعت کښې راځي ـ

د انسان هر قدم د بل قدم اخستو باعث جوړېږي، انقلابات پخپله نۀ راځي، حرکت ژوند روان ساتي او جمود فنا کوي، په بين الا قوامي او بين المللي توګه چې د تاريخ پاڼې سپړو ، نو اول زمونږ نظرونه هغه علمي، ثقافتي او سماجي تحريک ته زغلي چې دنيا ئي د بې شمېره ناوياته علمي او فني تصوراتو او نظرياتو سره اشنا کړه، او هغه تحريک وۀ د علومو د احيا او رابرڅېره کولو، چې دنشاة ثانيه، احيا ءالعلوم يا د ريناسنس (Renaissance) په نامه ياد شو ـ د دې آغاز په څوارلسمه -پېڅلسمه پېړۍ کښې وشو ، اوپه فلسفه، ادبياتو او لطيفو فنونو کښې ډېرانقلابي زيارونه مخې ته راغلل او د نړۍ په ادبياتو او رجحاناتو ئي ژور اثر پرېباسلو ددغه تاريخي خوځښت احاطه تاريخ پوه او محقق سيد علي عباس جلالپوري خپل اثر "خردنامه جلالپوري" کښې داسې کوي،

"شمالی اور مغربی یورپ کے شہروں میں اس کے سائنسی پہلو کو فروغ ہوا، کوپر نیکس، گلیلیو، نیوٹن، اور کپلر نے ہیت، اور طبیعات میں انکشافات کئے اور فرانسس بیکن، دے کارت، اور ہابس نے نئے فلسفے کی بنیاد رکھی، تحقیقی علوم کو چھاپہ خانہ نے فروغ دیا دنیائے ادب میں ایراسمس، مور، مونتین، اور شیکسپیر جیسے عظمانے ئے اسالیب وضع کیے،ا

ترجمه:د شمالي او قبليز يورپ په ښارونو کښې د دې ساينسي اړخونو وده بيامونده، کوپرنېکس، ګليليو، نيوټن، او کپلر په هيت، او طبيعات کښې انکشافات وکړۀ، او فرانسس بېکن، ديکارت، او هابس د نوې فلسفې بنياد کېښود ،تحقيقي علومو له چهاپه خاني وده ورکړه، د ادب په دنيا کښې ايراسموس، مور، مونتين او شېکسپيرغوندې اتلانو نوي اساليب وضع کړل-"

دغه تحريک چې د ژوند ټول اړخونه رانغاړي کول نو ورسره ورسره په متوازي توګه ددې ارتقائي تاريخ هم ليکلې کېدو چې د نن د محققينو د پاره ئي د موازنې اسباب هم راپيدا کول، او نظري جاج ئې هم اخستې کېدو ، هم په دغه اساس د"Pears Cyclopedia" مدونين ل-مېري بارکر(L.Mary Barker) او کرسټوفر کُک(Christopher Cook ) د کتاب په پينځه اتيايم ايډيشن کال (۱۹۷۷-۷۲)چې د بك كلب ايسوسي ايټ لنډن، پِلهم بكس

لندن له لوري کال نولس سوه شپږ اويايم کښې شائع دے، داِحيا د تحريک متعلق ليکي چې :

> "Renaissance is defined by the Oxford English Dictionary as: "the revival of art and letters, under the influence of classic models, which began in Italy in the 14th century"…..the term is used today refers not only to art in its widest sense but to a total change in man's outlook which extended into philosophical, scientific, economic and technical fields.."

ترجمه:د آکسفورډ انګلش لغت د احيا تعريف کوي چې ، د کلاسيکي ادب د نمونو د اثر لاندې دا د فن او ادب سردوباره کېدل په څوارلسمه صدۍ کښې په اټلي کښې شروع شو۔ دا اصطلاح نن سبا صرف د ادب دپاره په وسيعو معنو کښې نۀ استعماليږي بلکي د انسان د کلي بدلون د پاره پکارولي شي چې فلسفيانه،سائنسي،معاشي او تکنيکي اړخونه هم احاطه کوي"

د نشاة ثانيې عواملو څوپېړۍ پس په يورپ کښې،ذرعي انقلاب (Agricultural Revolution) ته هم لارې هوارې کړې اوتدريجاد صنعتي انقلاب اسباب ئې هم راپېدا کړل ۔د ذهني او فکري پرمختګ نه پس عملي اقداماتو طرفته انساني فکر چمتو۔لکه د احيا د تحريک د ذرعي او صنعتي انقلابونوپه ذريعه ژوند او د ژوند رفتار نور تند او تېز کړو، نتيجتاد روايتي او هنري منډهو او کاروباري مرکزونو په ځاے کارخانې سازې کړې شوې ، مشينونه د انساني مهارت متبادل اوګرځېد او پېداوار څو چنده سيوا شو،دغه بدلون او انقلاب د انسان په سوچ او فکر ځانګړي اثرات ثبت کړۀ او دغه فکري غلبې او سوچ په کاروباراو ادبي فنپارو، ژبه ، ثقافت او معاشي بحثونو کښې هر ځاے خپل وجود لاُبُدي او يقيني کړو اود ترقۍ په دغه منډه کښې د وړاندې قامونو ژبه د تدريس ، تحقيق ، فنونو او کاروبار او ټېکنالوجۍ ژبه شوه،وروستو پاتې قامونو مجبورا دغه ژبه خپلول،زده کول،او خپله ژبه هېرول او ناکافي ګڼل، د ترقۍ راز اوګڼلو چې تر اوسه د معاشي ترقۍ بام ته د ختلو د پاره واحده لاره ګڼلې شي۔حالانکې تحقيق دا خبره ثابته کړې ده چې کومو قامونو د پرمختګ او علم د تحصيل د پاره د انګرېزۍ يا بلې کومې بين الاقوامي ژبې په ډاډ مزل کړې دې ، نوخپله ژبه ئې وروستو پاتې شوې ده او چې کومو قامونو خپله ژبه د ربط او انسلاک ، تدريس او تبليغ او تحقيق او ترويج د پاره پکار راوستې ده،د ترقۍ په بام ختلي

دي لکه ،جرمني، فرانس او چين وغېره هم ـ څنګه چې کلهمې نړۍ نه يو نړيوال کلي (Global Village) جوړ شوے دے دغسې بازار او مارکيټ هم خپله لمن په ټوله دنيا خوره کړې ده،او په جديد مارکيټ کښې د رابطې او کاروبار ژبه ډيجېټل شوې ده،چې ا طلاعاتي ټېکنالوجي او مها رتونه پکښې مهم کردارترسره کوي. ډاکټر وهاب اعجاز د خپل پي ايچ ډي ناچاپه تهيسس کښې په دغه ضمن کښې دډاکټر خواجه کريم الدين رائې داسې رانقل کوي.

"جدید ٹیکنالوجی بالخصوص کمپیوٹر اور انٹرنٹ کی ترقی نے ابتدا میں یہ تاثر دیا تھا کہ اس سے زبان و ادب کے قارئین کم ہوں گے اس سے علمی رابطے اور کمپیوٹر کی زبان کے علاوہ دیگر زبانیں اپنے دایرے میں سمٹتی چلی جائیں گے ۔ مگر شکر ہے ایسا نہ ہوا بلکی سایبر اسپیس نے زبان و ادب کی ترقی کے ن ئے امکانات کو روشن کیا اور تیز رفتار ترقی کی راہیں ہموار کیں-آج کمپیوٹر کی زبان نہ صرف انگلش ہے بلکہ دنیا کی ترقی یافتہ زبانوں کے پاس بھی یہی سہولت موجود ہے کہ وہ کمپیوٹر اور سائبر اسپیس کی زبان بن سکتی ہیں-جن مملک نے انگریزی کی بجائے اپنی زبان کو کمپیوٹر سے ہم آہنگ کیا ہے وہ زبانیں تمام تر خدشات کو غلط ٹھہراتے ہوئے تیزی سے آگے بڑھ رہی ہیں اور جو زبانیں اب تک اس سے ہم آہنگ نہیں ہو سکیں وہ مقابلتاً پیچھے ہیں-اس ل ئے ضروری ہے کہ اپنی تہذیب و ثقافت کی بقا کے ل ئے جدید ٹیکنالوجی سے زبان کو ہم آہنگ کیا جائے ۲"

ترجمه: جديدې ټېکنالوجۍ خصوصا کمپيوټر او انټرنټ په شروع کښې دا تاثر ورکولوچې ګني دې سره به د ژبې او ادب لوستونکي کم شي او دې سره به د کمپيوټر خپله ژبه عامه او نورې ژبې راغونډې شي خو شکر دے چې داسې و نۀ شوۀ بلکې سايبر اسپېس د ژبې او ادب نور امکانات راښکاره کړل، او د سمدستي ترقۍ لارې ئې هوارې کړلې،نن نۀ صرف دا چې د کمپيوټر ژبه انګريزي ده بلکې د نړۍ نورو وړاندې ژبو سره هم دا سهولت موجود دې ـ چې د هغې په وجه د کمپوټر او سايبراسپېس ژبه جوړېدې شي ـ کومو ملکونو چې د انګرېزۍ په ځاې خپلې ژبې د کمپيوټر سره برابر کړې دي،هغه سره د ډيرو انديښنو په وړاندې روانې دي او چې کومې ژبې ورنه وروستو پاتې دي،هغه مقابلتا پسمانده دي،ځکه نو ضروري ده چې د خپل ثقافت د بقا د پاره خپله ژبه د جديدې ټېکنالوجۍ سره متعارفه کړې شي".

پورته ذکر کړي شوي کتاب کښې د صنعتي انقلاب متعلق موصوف مصنف سید علي عباس جلالپوري وړاندې لیکي چې:

"1800اور1850 کے درمیانی برسوں میں صنعتی انقلاب یورپ اور امریکہ میں پھیلتا جاپان تک پہنچ گیا اور وسیع پیمانے پر مصنوعات کی ساخت ہونے لگی، جن کی کھپت کے لیے منڈیوں اور خام مال کی فراہمی کے لئے نوآبادیوں کی ضرورت محسوس ہوئي، 1875 کے لگ بھگ یورپی اقوام میں ایشیا، افریقہ کی منڈیوں کے حصول کے لیے بے پناہ تگ وتاز کا آغاز ہوا۔"۳

ترجمه: د کال اتلس سوه( ۱۸۰۰) اواتلس نیم سوه( ۱۸۵۰) تر مینځه کلونو کښې صنعتي انقلاب د یورپ او امریکې نه جاپان ته ورخور شو او په لویه پېمانه د مصنوعاتو سازول شروع شو.د هغې د پکارولو دپاره د منډیو او د خام مال د فراهم کولو د پاره د نوآبادیو(نوو علاقو) ضرورت راپېښ شو.د کال اتلس سوه پینځۀ اویا( ۱۸۷۵ ع )خواوشا د یورپي قامونو ترمینځه د ایشیا او افریقې د منډیو د حاصلولو د پاره بې اندازې هڅې جاري وې"

د یو تحریک په باب تر ټولو زیاته مستنده او مقبوله رائې د مقامي لیکوال کیدې شي چې د هغوي مشاهده زیاته قوي او دلایل زیات معتبر وي. د صنعتي انقلاب (Industrial Revolution)متعلق مشهور برطانوي ماهر معیشت او تاریخپوه ارنلډ ټاېن بي (Arnold Toynbee 23 August,1852-9 March 1883) خپل یو لکچرکښې د دغه انقلاب نورو اړخونو ته به بل نظرګوري او لیکي چې:

“The essence of Industrial Revolution is the substitution of competition for the medieval regulations which had previously controlled the production and distribution of wealth. On this account it is not only one of the most important facts of English history, but Europe owes to it growth of two great systems thought-Economic Science, and its antithesis Socialism”.4

ترجمه: د صنعتي انقلاب اصل دا وۀ چې د قرون وسطَی(مینځنو پېړو) د دور پخواني دور کښې چې دپیداوار رفتار او د مال تقسیم پکښې قابو کښې ساتلے شوے وۀ،د مقابلې او قرون وسطی کښې د وضع کړې شوي قوانینو دپاره یو متبادل وۀ،دا نۀ صرف د ا چې د انګریزي تاریخ تر ټولو اهمه برخه ده بلکې یورپ هم ددي په وجه د نمو(ودې) د دوه لویو نظامونو،معاشي ساینس،او د هغې د متضاد سوشلزم نه مستعار دي "-

چونکې مارکیټ او مارکیټنګ د یو بل دپاره لازم او ملزوم دي ځکه نو مونږ د موضوع د پوره احاطه کولو دپاره مارکیټنګ باره کښې هم ځنې بنیادي خبرې کوو، ګورو چې ددې فن ماهران او پوهان د مارکیټینګ تکنیکي او فني تعریف څنګه کوي آن لاین دایرة المعارف وکیپیډیا د مارکیټنګ وضاحت په لاندینو لفظونو کښې داسې کوي۔

> ”Marketing is the study and management of exchange relationships. Marketing is used to create, keep and satisfy the customer. With the customer as the focus of its activities, it can be concluded that Marketing is one of the premier components of Business Management”. 5

ترجمه : مارکیټنګ د تعلقاتو د تبادلې د انتظام او مطالعې نوم دے،دا د ګاهک د جوړولو،ساتلو،او مطمئن کولو عمل دے ،چونکې ګاهک ددې ټول عمل مرکز وي نو دا نتیجه اخذ کولے شو چې مارکیټنګ د کاروبار د انتظامي علومو تر ټولو اهم توکې دے"
امریکن مارکیټنګ ایسوسي ایشن ئې په زیات جامع انداز کښې بیانوي او د کاروبار او تجارت عمل سره د تړلو ټولو عملیاتو احاطه کوي،لیکي چې ،

> “The activity, set of instructions, and process of creating, communicating, delivering, and exchange offerings that have value of customers, clients, partners, and society at large.”6

(د مارکیټنګ دا) عمل د هغه غوښتنو یا کارونو مجموعه ده چې د سازولو،رابطې کولو،او (څیزونود) رسولو،او د سودا د وړاندېز داسې موقعې پېدا کول چې د ګاهک،سودا کوونکې،کاروباري شریک او معاشرې قدر وي پکښې" د تعریفاتو نه پس مونږ راځو هغه مرحلې ته چرته چې یوه ژبه د مارکیټ برخه ګرځولے شي نو د هغې د پاره یوه پالیسي جوړولے شي،درجه بندي ئې هم کولې شي او بیا د هغې په بنیاد نور اقدامات کولې شي۔دا قدم پورته کول عموما د ریاست او حکومت ذمه داري وي،چې د یوې ژبې رخ متعین کوي او د هغې د ائیني او قانوني حیثیت اندازه هم ترې لګېدې شي۔ فرینک اینشن (Frank Anshen) په دغه موضوع خپل یو مضمون" لېنګوېج پلاننګ" کښې د دغه تقسیم او درجه بندۍ تصویر دا رنګ سازوي:

> “Language policies can be classified into three major approaches: mono-lingualism, equal multiculturalism, and national/regional language systems. France has followed the first since twentieth century, and India has moved to the third since independence.”7

ترجمه: د ژبې(په باب) پالیسۍ په درېو لویو درجوکښې ویشلې کېدې شي،واحد یا یک لساني(یوژبیز)(اپروچ)، مساوي کثیرالثقافتي، اوقامي یا علاقائي د ژبې نظامونه،فرانس د شلمې صدۍ نه راپه دېخوا په دغه وړومبۍ درجه مرتکز دي او هندوستان د ازادۍ نه پس ۰ (دغه) دریمې درجې(قامي یا د علاقائي ژبې نظام) ته وړاندې شو۔"

نورې ژبې یا د نورو ژبیو علوم خپلې ژبې ته منتقل کول یا نورې ژبې د خپل تاریخ،ثقافت ،ادب او فکر نه خبرولو د پاره مونږ سره تر ټولو لویه ذریعه،واسطه او مېډیم ترجمه ده ـیونانیانو د بابل،عربو د یونانیانو، اوا یرانیانو،انګریزانو د عربو اورومیانو، او مونږ دانګرېزانواو ایرانیانو ترجمې وکړې او په دې ترتیب انسان د اجتماعي علومو خزانه نوره زیاتېده ـ دترجمې د دغه افادیت او په مارکیټ کښې د دې د ضرورت احساس، د وخت تقاضا او د پرمختګ لاره ده، دا کله د لیک په شکل کښې وي او کله د وئېلو او اورېدلو په جامه کښې،خو د ربط او تړون لارې په ګوته کوي او د پرېکون او شلون لارې بندوي۔ دا حقیقت دې چې مونږ په یوۀ کثیر اللساني چاپېرچل کښې ژوند کوو،او په داسې معاشره کښې که یو اړخ ته د یو تحقیق تر مخه د ماشومانو د زده کړې عمل تېز او قوي وي نو بل اړخ ته یو سماجي او معاشرتي تړون هم راولي ـ او د ژبې دپاره د ژوند د نورو لارو د پرانستلو سره سره د تجارت او کاروبار موقعې هم راپېدا کوي،او هم د ترجمې په ذریعه د ثقافتي انتقال(Cultural Exchange) عمل ترسره کېږي،او هم دغه د نن سبا په اعلی علمي او ثقافتي اهدافو کښې په ریاستي توګه په نظر راځي،هم ددې دپاره مالي وظائف مقررولے شي،چې موجودې فاصلې کمې یا ختمې کړېشي ـ کرسټاف ګټکنچ (Christoph Gutknecht) په خپل یو مضمون کښې د ترجمې د اهمیت په اړه خپل فکر داسې څرګندوي،

> "Translation is undoubtedly a communicative device…..The term "translation" normally refers to written materials but is also an umbrella term used for all tasks where elements of a text of one language(the source language, SL) are molded into a text of another language (the target language, TL),whether the medium is written, spoken, or signed."8

ترجمه:ترجمه بې شکه چې د رابطې یوه آله ده،ــد ترجمې د اصطلاح نسبت عموما لیکلي موادو ته کېږي خو دا یوه ذېلي اصطلاح هم ده چرته چې دیوې ژبې د متن عناصر(دذریعې

ژبه) د یوې بلې ژبې متن ته اړولے شي(د هدف ژبه) که د ترسیل ذریعه په لیک کښې وي،په ویلو کښې وي او که د نخښې(علامت) په شکل کښې وي."

کثیر اللساني معاشرې مثبت اومنفي دواړه رجحانات راپیدا کړل،مړې ژبې په وړاندې لاړلې او پسمانده ژبې د زوال په لوري رواني شوې ،د غالب او مغلوب او فاتح او مفتوح عمل هم پکښې خپله برخه او کردار ولرلو. خو غالبو ژبیو د مغلوبو ژبیو د سبقت سفر وتمبولو او په مارکیټ او علومو ئې ترې قبضه هم وکړه . د کلیو او بانډو په ښارونو کښې ،او د ښارونو په نورو لویو او بین الاقوامي ښارونونو کښې د بدلېدلو عمل هم د ژبې او مارکیټ نوې رخونه متعین کړل، د ښارونو د جوړېدلو دغه تېز عمل یا دتند اربنایزېشن (Rapid Urbanization )د نړیوالے یا (Globalization)دغه تدریجي او سماجي عمل د انساني تهذیبونو، ثقافتونو، رویواو ژبو باره کښې د سوچ او عمل،او خبر او نظر نوې دروازې پرانستې او ژبپوهان ئې په جدیدو موضوعاتو بحث کولو ته مجبوره کړل چې د ژبې په باب نوو راپېښو کشالو ته په سائینسي او تکنیکي نظر وګوري، په دغه موضوع سوزانې رومېن (Suzanne Romaine)خپل انګریزي تحقیق(Multilingualism) "کثیر اللسانیت" کښې لیکي چې:

> "Two patterns deserve comment in relation to the changing character of multilingualism in the world today. One is increasing bilingualism in a metropolitan language, particularly English. Many smaller languages are dying out due to the spread of a few world languages such as English, French, Spanish, Chinese; etc.It has been estimated that 11 languages are spoken by about 70 percent of the world's population. In this respect, the majority of the world's languages are minority languages. The second is increasing linguistic and cultural diversity in parts of Europe and the USA through continuing and new waves of immigration"9

ترجمه :دکثیراللساني د بدلیدونکي کردار دتعلق په نني دور کښې دوه اړخونه د بحث تقاضا کوي،یو په لویو ښارونو کښې د دوه ژبیو ویل تېز رجحان، خصوصا انګریزي، ،ډېري وړې ژبې د څو لویو ژبیو لکه انګریزۍ،فرانسیسۍ،سپېنش،او چینۍ وغیره د فراختیا په وجه معدومه کېږي. د یوې اندازې تر مخه د دنیا اویا فیصدي خلق ۱۱ ژبې وائي . په دې توګه،ددنیا اکثرې ژبې په اقلیت کښې دي،دویمه په یورپ او امریکه کښې د ژبیو او ثقافت فرق او اختلاف دې چې د مهاجرت د چپیو پکښې ډیر لاس دې"

د کثیرالقومي (Multinational)کاروباري ادارو د تجارتي سرگرمیو او خپل پېداوار د مارکېټ فراخه کولو د پاره د هرې علاقې د ژبې حېثیت مسلَم وي،اکثرو صورتونو کښې دیوې ژبې باره کښې پوره حل نهٔ لرلو په وجه تجارتي ادارې د ګڼو مشکلاتو سره مخ وي۔ ځکه چې د خپل پېغام رسولو دپاره ژبه اساسي وي،او غېر واضح صورتحال کښې هغوي قطعي فېصله نهٔ شي کولے، هم دغې حالت ته د ګورننس(Governance ) په موضوع لیکلي کتاب کښې مصنفین دې الفاظو سره اشاره کوي:

> "Global companies often have difficulties crossing language barrier, with results ranging from mild embarrassments to outright failure. Seemingly innocuous brand names and advertising phrases can take on unintended or hidden meanings when translated into other languages….other companies follow strategy of **communication adaptation,** fully adapting their advertising messages to local markets."10

ترجمه :بېن الاقوامي کمپنۍ اکثر دژبې د رکاوټ په وجه مشکلاتو سره مخ وي۔ دا کله کله حل کول اسان وي او کله کله بېخي ناکامۍ سره ئې مخ کړي۔ ظاهرا د څیزونو بې ضرره نومونه او د مشهورتیا جملې کله کله ناغوښتلي او پټې معنې راپېدا کړي کله چې بلې ژبې ته اوژباړلې شيـ نورې کمپنۍ درابطې هغه طریقه استعمالوي چې خپل پېغامونه مقامي مارکېټ ته اورسوي۔

د اطلاعاتي ټېکنالوجۍ راتګ د علم او عمل پورې دروازې خلاصې او وا کړلې،او علومو او فنونو ته رسائي ئې د مخکښې په نسبت ډېره اسانه کړه، او نتیجتا دغې عمل د ایجاداتو،او نظریاتو په دنیا کښې یو نااشنا انقلاب او بدلون راوستو ۔ خو سره ددې دا حقیقت هم هېرول نهٔ دي پکار چې د کومو قامونو یا ژبو رسائي ورته وروستو وشوه یا ورته هډو ونهٔ شوه ،هغوي هم هغه هومره وروستو پاتې شوۀ ۔ او ګویا دغې انقلاب قامونه او ذهنونه په دوه برخو کښې ووېشل ۔ او په انفارمېشن ټېکنالوجي کښې ورته ډېجېټل ډیوایډ(Digital Divide) نوم ورکړې شو۔ په دې حواله جسکرن کور (Jaskiran Kaur)خپل کتاب کښې لیکي ،

> "The term digital divide refers to the gap between people with effective access to digital and information technology and those with very limited or no access at all. It includes the imbalances in physical access to technology as well as the imbalances in resources and skills needed to effectively participate as a digital citizen".11-

ژباړه":د ډیجیټل وېش اصطلاح هغه فاصلې ته اشاره کوي کومه چې د اطلاعاتي ټېکنالوجۍ ته موثره رسائي لرونکیو اود محدودې یا بیخي رسایي نۀ لرونکیو تر مینځه حایله وي، دا عدم توازن او فاصله د جسماني رسایئ نه لرلو په صورت کښې هم کیدي شي او د وساېلو او ضروري هنري مهارت نه لرلو په صورت کښې هم،چې یو وګړي له د ډیجیټل وسیدونکي په حیث د موثره شرکت د پاره ضروري وي"

پښتو، په کلي توګه د مارکیټ د ژبې جوړولو د پاره ضروري دا ده چې اصطلاحات سازي پکښې وشي او په عالمي ژبیو کښې په مختلفو موضوعاتو تعارفي او تحقیقي لیکنې وشي،دا وخت د ترجمې مسئلې نۀ صرف دا چې پښتو ته راپېښې دي بلکې نورو ژبې هم د دغه مسئلې سره مخ دي توحید احمد خپل یو مضمون کښې په دغه موضوع لیکي چې،

"دنیا میں ترجمہ کے اداروں میں اولین صف میں یورپي یونین ہے، جسکی سب کارروائی رکن ممالک کی 24 زبانوں میں بیک وقت کی جاتی ہے،یورپي یونین کی کمیشن میں ترجمہ اور مترجمی کے الگ الگ ڈایرکٹوریٹ جنزل قایم ہیں، جن میں ترجمہ کے شعبہ کے عملہ کی تعداد2500ہے،جو ایک سال میں 20لاکھ ترجمے کرتاہے

دنیا کی کئی جامعات میں بزنس اور السنہ وعلوم ترجمہ کی ایک ساتھ تعلیم دی جارہی ہے،اسی طرح کمپیوٹریات کے فروغ کے لیے کمپیوٹری پروگراموں کیمقامیانے (Localization)کی سخت ضرورت ہے"۱۲

ترجمه: د نړۍ د ترجمې په ادارو کښې په اول صف کښې د یورپي یونین اداره ده،چې ټوله کارروائي ئې د رکن ملکونو د پاره په څلیریشتو( ۲۴ )ژبیو کښې په یو وخت کښې کېږي،په یورپي یونین کښي د ترجمې او مترجمۍ بیل بیل ډایرکټوریټ جنرل قایم دے چې پکښې د ترجمه کوونکیو وګړیو شمېردوه نیم زره( ۲۵۰۰) دے ،دوي په یو کال کښې شل لکه ترجمې کوي.د نړۍ په ګڼو جامعاتو کښې د تجارت ،ژبیو او ترجمې د علومو علم یو ځاې ورکولے شي او د کمپیوټریاتو د فروغ دپاره د کمپیوټري پروګرامونو د مقامي کولو سخت ضرورت دې"

پښتو د مارکېټنګ ژبه جوړولو د پاره چې کله مونږه د ترجمې ذکر کوو نو ضروري ده چې د مشیني ترجمې ذکر هم اوشي، په تکنیکي توګه مونږ د مشیني ترجمي دورونه په څلورو

برخو کښې وېشلې شو، دکلیکولېټر(حسابګر ) د ایجاد نه پس وړومې دور( ۱۹۲۰-۱۹۴۲)، دوېم دور (۱۹۸۰-۱۹۲۱ دې دور کښې دانګرېزۍ او روسۍ ژبېو د ترجمې په باب هڅې روانې وې. دریم دو دکال ۱۹۹۰ع نه تر ۱۹۸۱ع،پورې، دې دوران کښې د جاپان ځنې کمپنیو په مشیني ترجمه خپلو هڅو له دوام ورکړې وۀ او د یو بل نه د سبقت د پاره په تېزۍ کار کولو چې خپل کاروباري ضرورتونه پوره کړي،

څلورم دوردکال نولس سوه یونوي( ۱۹۹۱ع )نه لا تردې دمه جاري،په دې دور کښې په مشین د انسان اواز پېژندل او په اواز تحقیقات،

د کمپیوټریاتي لسانیاتو یا ژبپوهنې(Computational Linguistics) په ضمن کښې دا لاندې ورکړې شوې درې اهم آلات یا ذرایع دي چې د مشیني ترجمې د پاره پکارولے شي بین الاقوامي مترجم،ګوګل مترجم،او یاهو ببېلفس.۱۳

په دغه اساس ترجمه کاري یو نفع بخش کاروبار دے چې نۀ صرف دا چې عالمي قوتونه ترې خپل سیاسي مقاصد ترلاسه کوي بلکې معاشي او تجارتي فایدې هم لاسو ته راوړي - دلته به دا خبره هم بې ځایه نۀ وي چې ګوګل ټرانسلېټر (Google Translator)تر اوسه یوسل نهۀ ویشت(۱۲۹ )ژبېو ،اویاهو ببېلفش(Yahoo Bablefish) پینځه اویا(۷۵ ) ژبېو کښې د ترجمې سهولتونه ورکوي او ددې په شا مارکېټ ته رسائي او د مارکېټ فایدې تر لاسه کول دي ،په ګوګل ټرانسلېټر کښې د اردو د ۴۹۶۰۰ توریو ډیټا موجوده ده، ،د فرورۍ میاشتې د کال نولس سوه شپاړسم( ۲۰۱۶ ع)کښې پښتو د ګوګل ټرانسلېټر حصه وګرځوله اګر که د اشتهاراتو او پراډکټس د پاره د دغې نه لس کاله وړاندې پکارولے شوه - ۱۴

د کال دوه زره اووم نه کال دوه زره نهم (۲۰۰۷-۲۰۰۹) د مردم شمارۍ تر مخه د پنځوسو شپېتو ملینونوګړیو ژبه پښتو ده چې د شلو نه زیاتې علاقائي لهجې لري.۱۵

او اوس د نوې مردم شمارۍ مطابق په خیبر پښتونخوا ،پخوانۍ فاټا ،بلوچستان او اسلام آباد کښې د پښتنو شمېر په مجموعي توګه ۳،۲۷۲۲۲۲۰اوپه افغانستان کښې۵ . ۳۲ملینه دې،دارنګ اندازا د شپږو کروړو نه د زیاتو۱۲ ویونکیو ژبه لا تر اوسه د دنیا د ډېرو ژبېو نه په ادبي ، کاروباري ،او سائینسي مېدانونوکښې وروستو ده. خو د تعلیم د شرحې د کمې ،دوسایلو د نشت والې،د مالي او سماجي پسماندګۍ،د سیاسي ناپوهۍ،د قیادت د نشتوالي ،او هنري تعلیم نۀ لرلو په وجه پښتانۀ په ډیجیټلي دنیا کښې د نورو وړو

قامونو او ژبیونه وروستو پاتې دي او په دې مدونو کښې د ډېر کار ضرورت دے چې د پښتنو او پښتني تهذیب ښۀ اړخونه په اطلاعاتي مېدانونو کښې موجودو خلقو ته اورسولے شي. بې ځایه به نۀ وي که مونږ دلته د اطلاعاتي ټېکنالوجۍ نه علاوه د سماجي رابطې ذرایع فېس بک ، اِنسټګرام ، یوټیوب ، ټوېټر، سکاېپ وغیره ذکر کړو ځکه چې د ا ټول هم د پښتو په وده کښې اهم کردار ترسره کوي او دا کولے شي چې پښتو د منظمو او متقاضي کوششونو په لاره د مارکیټ ژبه جوړه کړي، په دې حواله ډاکټر صفوان لیکي چې:

*"پچھلے چند سالوں میں انٹرنٹ کے دنیا بھر کے سماج میں پھیل جانے سے آنے والی کاروباری اٹھان نے بھی مشینی ترجمے کے مواقع میں یکایک اضافہ کر دیا ہے، فیس بک اور سکایپ وغیرہ جیسے سماجی نٹ ورک پروگراموں کے ساتھ فوری پیغامات بھیجنے والے سافٹ ویئر مثلاً گوگل ٹاک وغیرہ اپنے استعمال کنندگان کو کئی زبانوں میں متن لکھنے کی سہولت دے رہے ہیں، موبائل مصنوعات مثلا موبائل فون، سفری کمپیوٹر اور ڈیجٹل ڈائریوں پر یہ سہولت عام ہیں، ان مصنوعات کی ساخت ایسی بنائی جارہی ہے کہ باہم مختلف زبانیں بولنے والے کاروباری شراکت دار اور گاھک بغیر مترجم کے صرف انھی مشینوں کے استعمال سے ایک دوسرے کی بات سمجھ سکیں۔"[۱۷]*

ترجمه:د تېرو څو کلونو نه په نړۍ کښې د انټرنټ د خورېدو په وجه کاروباري اهمیت هم د مشیني ترجمې په افادیت کښې اضافه کړې ده،د فیسبک (Face Book)او سکاېپ (Skype)وغیره د سماجي ترون(نِت ورك) پروګرامونو سره فوري پېغامات (Instant Messages)رسونکي سافټ وېئر(مصنعِ لطیف) لکه ګوګل ټاک (Google Talk)وغېره خپلو استعمالونکیو ته په څو ژبیو کښې د متن لیکلو سهولت ورکوي،موبائل مصنوعات لکه موبائل فون،سفري کمپیوټر(Laptop)،او ډیجیټل ډائرۍ دغه سهولتونه عام ورکوي، او دا مصنوعات داسې جوړولے شي چې تر خپل مینځه بدلې ژبې ویونکي تاجران او کاروباریان بغېر د ترجمه کوونکي نه هم د دې مشینونو په سهولت سره د یو بل په خبرو پوهه شي"

دلته دا خبره ه د یاد وړده چې که د جېنېټک انجنئرنګ(Genetic Engineering) په ذریعه انسان د جنس او اندامومونو د انتخاب او تصرف د سهولت نه فایده ا خستې شي نو ددې

خبري امکانات هم موجود دي چې دخپلي مورنۍ ژبي نه علاوه به یو انسان د خپل ضرورت د پاره د ګڼو ژبیو وئېلو صفت هم حاصل کړي،د ژبې ضرورتونه پوره کول او د نن قابل او غوره جوړول د وخت علمي او کاروباري ضرورت دي۔

د هزاره یونیورسټي ،مانسهره اسسټنټ پروفېسر ډاکټر اسد شاهجهان راقم سره په یو ټلیفوني بحث کښې ووئېل چې ،"په اېډورټایزنګ( تشهیربازی) او مارکېټنګ (ترسیل، بازارکاري) کښې څه څیزونه د پښتنو د پېژندګلو د پاره خاص دي چې هم ددوي نمایندګي کوي،لکه میلمه دوستي،اود ډراېورۍ پېشه وغیره،اګر که څهٔ څېزونه مثبت او منفي اړخونه دواړه لري ۔ دوي زیاته کړه چې لکه سوشل مېډیا باندې پښتنو پورې خند ا او ټوقې کول د دغه خبرې واضحه مثال دے ۔ دوي اووئېل چې د پښتو ژبې وروستو پاتې کېدل د مېډیا مسئله نهٔ ده بلکې زمونږ خپل ترجېحات دي چې مونږه خپله ژبه پخپله وروستو پرېښښې ده،حالانکې افغانستا ن کښې په دغه باب زیات د ستائنې وړ کار شوے دے ،هلته په برقیاتي او صحافتي مېډیا کښې پښتو د اېډورټایزنګ او مارکیټنګ دواړو دپاره په ښهٔ ډول پکار راوستې شوې ده او پښتو د مارکیټ د ژبې په حېث وجود لري،مونږ له به هم په دغه لاره تلل وي۔"۱۸

جدیدتجارتي تصوراتو دژبې اصلي حیثیت مخې ته راوړے دے،او د تحققیاتو یوه نوې سلسله ئې روانه کړې ده،دا تحقیقات که یو اړخ ته دا کاروبار د کامیابۍ لارې معلوموي نو بل اړخ ته ژبه هم د ترقۍ په لاره په وړاندې بوځي ۔ د سوشیو لنګوسټک(سماجي لسانیاتي) یو وېب سائیټ د مارکېټ د ژبې متعلق داسې لیکي۔

> “Accordingly, the concept of the linguistic marketplace (or talk market) denotes that there is a **marketplace for application of language** and that language- speaker’s linguistic capital-is consequently applied on a linguistic market where different linguistic varieties have different **market values** and therefore achieve different prices. That is, the varieties (and their use on the linguistic market) are either valued positively or negatively and they are thus ascribed with differing levels of prestige/nonprestige.In order to succeed on the linguistic market it is necessary to apply the linguistic variety has the highest market value”.۱۹

ترجمه:هم دغه رنګ د لسانیاتي مارکیټ ځاې( یا مارکیټ خبرې) دا اشاره کوي چې د دغه ژبې د نفاذ او استعمال دپاره یو تجارتي ځاې یا مرکز شته،د ویونکي لسانیاتي سرمایه

نتيجتا په لسانياتي مرکز کښې پکار راوستې شي چرته چې دمختلفو لسانياتي موادو مختلف تجارتي قدر وي او ځکه مختلف قيمتونه حاصلوي،د ژبيو دا تغير(او په لسانياتي مارکيټ کښې د هغي استعمال) يا خو په مثبت توګه او يا په منفي توګه اندازه او قيمت کولے شي او هم په دې بنياد له يو بل نه د فوقيت په لحاظ مختلف او بدل وي،لسانياتي مرکز يا مارکيټ ته د رسايۍ د پاره ضروري ده چې لسانياتي تغير ډير زيات تجارتي قدر لري۔

په اصل کښې د مارکېټينګ يا مارکيټ اصطلاح دومره فراخه او وسيعه ده چې ځانله يو جدا سائنس دې او بيا کله چې د ژبې بحث هم پکښې راشي ،نو نور وسعت پکښې راشي،اګر که مارکيټ په خپل روايتي مفهوم کښې هغه هومره ژور نۀ ښکاري خو چې کله نن سبا د نړۍ د کاروبار انداز،رجحاناتو،انتظامي امورو او اثراتو ته نظر کولے شي نو انساني ذهن په دې نتيجه رسي چې دا مارکيټ هاغه روايتي مارکيټ نۀ دے پاتے،بلکې په تصور کښې ئي ډېر لوې فرق راغلے دے۔ځنګه چې انفارمېشن يا اطلاعاتي ټِکنالوجۍ د پېړيو مزل په لسيزو کښې کړے دے دغه رنګ ټول فنون او علوم په انقلابي توګه بدل شوي دي ،ځکه نو د مارکيټ د ژبې نه مراد هاغه ژبه هم ده چې په خېبر پختونخوا ، بلوچستان، کراچۍ،افغانستان،عرب ملکونه،غربي ملکونه او هغه علاقې چرته چې پښتانۀ ژوند او کاروبار کوي ،وئيلې شي،او بل اړخ ته هغه مېدان هم دے چرته چې دوي د برقي،او پرنټ مېډيا په ذريعه د ژوند نورو معاملو سره هم مخ دي،يا چرته چې پښتو ژبه د پېداوار د ودې د پاره پکارولے شي که هغه اېډورټايزنګ وي،مارکيټنګ وي،ترجمه کاري وي،او که کاروبار او نور تبليغات وي

د پښتو ژبې د مارکيټنګ په مد کښې يا د مارکيټ ژبې جوړولو کښې ټي وي چېنلونو لکه پاکستان ټيلي وژن،پښتور، خيبر ټيلي وژن،شمشاد ټيلي وژن،عروج ،افغان،مشرق،پي ټي وي نېشنل،دازادې اوخودمختارۍ يا نجي مېډيا چېنلونه، په ريډيو چېنلونو کښې بي بي سي ريډيو ،مشال ريډيو ،د آزادۍ ريډيو، ډيوه ريديو ،مقامي ريډيو چېنلونه،بهرني ،او نور ګڼور خدمتونه ترسره کوي،دغسې په ورځپاڼو کښې وحدت،هېواد ،پښتون پوسټ، خبرونه، پښتور کښې او ځلاند په کوېټه کښې، په افغانستان کښې بې شمېره ورځپاڼې او

ادبي مجلې او دغسې د نورو اخبارونو پښتو صفحې او له پورته ذکر شویو رېډیو چینلونو نه علاوه عام نور اېف ایم رېډیو چېنلونه د ذکر وړ کار کوي.

انګرېزي، چیني، سپېنش ،فرانسیسۍ، عربي، فارسي، اردو ،سندهۍ ،پنجابۍ او نورو ژبیو د پرمختګ د پاره ډېر علمي، عملي او سماجي زیارونه کړي دي ځکه نو هلته د تحقیق د پاره دپلېژرزم (Plagiarism)غونډې معیاري عمل هم شته او مونږ سره د دغه سهولت د نشتوالي په وجه زمونږ د تحقیق او څېړنې عمل په بېن الاقوامي معیار اتو ډېر کم پوره خېژي اود ډېجټل لایبریریو(برقي کتب خانو) او نور سهولتونه نشتوالي هم مونږ د خپل مرام ترلاسه کولو نه وروستو پاتې کوي. داخبره هم د ذکر وړ ده چې په مارکېټ کښې به هغه ژبه وجود لري چې وبونکي ئي پراډکټس(پیداواري مواد) او کاروباري مواد او څیزونه سازوي او لري او پښتنو سره لا داسې کارخانې او کارپورېټ سېکټرنشته چې په دغه لوري ګامونه واخلي خو قراېن دا ښائي چې دغه وخت راروان دې نو د تیارۍ تقاضا کوي. د سماجي رابطي وېب سایټونه لکه فېس بک،ټوېټر،لنکډ اېن،اِنسټا ګرام،وغیره هم د پښتو په مارکېټنګ کښې لاس کوي او دغسې انډراېډ موبایلونه هم پښتو له د مارکیټ د ژبې په حېث وده ورکوي،کثیراللساني کلیدي تختې یا کي بورډز (Multilingual Keyboards) د پښتو د زده کونکیو د پاره نوې لارې پرانیزي،او خپل په خپله د پښتو ا لفاظو ذخیره زیاتېږي.

سافټ وئېر انجنیئر حیات خان ماله خپله تکنیکي رائې راکولو دوران کښې په یو ټیلیفوني بحث کښې اووئېل چې:

" که مونږ غواړو چې پښتو دې مارکیټ ژبه جوړه شي،نو مونږ سره د سیاحت،ثقافت،او دتاریخي او لرغوني ورثې په شکل کښې ډېر څۀ شته چې مونږ پرې د نړۍ د خلقو پام خپلې ژبې او ثقافت ته راګرځولے شو. ځکه چې هم دا زمونږه علاقه د بدھ مت،مرکز پاتے دے او هم دلته نه ګندهارا تهذیب نورې دنیا ته خور شوے دے،دوي اووئېل چې پښتو به د مارکیټ دژبې جوړولو دپاره د رابطې ذریعه هم جوړول وي،او د اطلاعاتي ټېکنالوجۍ په مد کښې به هم،د سمعي کتابونو(Audio Books) ،برقي کتابونو ،(Electronic Books) او ډېجېټلائزېشن د پاره به کار کول وي،چې زمونږ ماشومان دخپلې ژبې د وئېلو او لوستلو

سره سره د صحيح وئيلو جوګه هم شي ـ او په دې طريقه به زمونږژبه نوي نسل ته منتقل کېږي اومارکيټ کښې به خپل وجود يقيني کوي" ۲۰

کوم ساېټس چې د پښتو د پاره کار کوي لکه "تاند "نټ فورمز (چوپال)،بلاګز(مدونه)، که يو اړخ ته صحتمند ادب لوستونکيو ته وړاندے کوي نو بل اړخ ته هغه د تنقيد يو بل قسم،"ډيجټل تنقيد" هم متعارف کوي ـ د افغانستان "افغان ډيټا" په زرګونو آن لاين پښتو،فارسي،او انګريزي کتابونو ته رسايي ورکوي ـ دغسي د پښتو اکېډمي،پېښورهم د کتابونود آنلائن کولو منصوبه لري،اي بُکس(Ebooks ـ برقي کتابونه )او،پي ډي ايف (Portable Document Format-PDF)وغېره هم په لوستونکي کښې اضافه کوي ، د محققينو کار اسانوي او پښتو بين الاقوامي مارکيټ ته رسوي ـ چې د پښتنو د تهذيب او ثقافت د بقا ضامن به ګرځي ـ د نورې ودې د پاره په انفرادي ،تنظيمي،اداره جاتي،او حکومتي سطح باندې نوي او د وخت د تقاضو سره سم په سم کوششونه پکار دي چې پښتو په دغه مد کښې د نورو ژبيو د پرمختګ په سفر کښې وروستو پاتې نه شي او دا رنګ يو ه قامي فريضه په ښه شان ترسره کړې شي ـ

درېډيو پاکستان،پېښور د پخواني ډائرکټر او قدآور محقق رشيد احمد صاحب رائې چې وپوښتلې شوه چې د ريډيو په حواله پښتو د مارکيټ د ژبې په باب څۀ خيالات لري نو هغوي ووېل چې:

"د ريډيو په حواله پښتو ډيره موثره ځکه ده چې ددې پېغام نېغ په نېغه کورونو ته رسي،او په غرئيزه او لري پرتو علاقيو کښې ددې اهميت نور هم سېوا کېږي او د ودې زيات امکانات لري،خو شرط دا دے چې د مارکيټنګ په حواله دا کتل وي چې د مارکيټ يا اشتهار او پراډکټ هدف او ټارګټ څوک دي؟البته دا ده چې نجي نشرياتي ادارې د پوره صلاحيت نۀ لرلو په وجه مخلوطه او مصنوعي ژبه وائي چې د ژبې ادبي او ساهو حېثيت ته نقصان رسوي ـ ريډيو او ټيلي وېژن کښې چې چرته سکرپټ پېښه ور ليکونکي ليکي هلته ژبه صفا وي او چرته چې صرف تجارتي مقاصد حاصلول وي هلته ترجيحات بد ل وي ـ دوي د يوې پوښتنې په ځواب کښې ووئېل چې "ډيوه" ريډيو ډېر اوريدونکي لري او لهجه ئې هم زمونږ د لهجې سره سمون خوري،ددې په مقابله کښې د نورو ريډيو چېنلونو لهجه يا خو د

افغانستان د لهجي سره مطابقت لري یو ئي لغات او لفظونه ددې علاقې د خلقو د پاره نااشنادي."۲۱

پښتو د مارکیټ ژبه جوړولو د پاره دا اقدامات تجویز کولے شي۔

۱-پښتو دې په کلي /اختیاري توګه د نصاب برخه جوړه کړي شي او د ټېکسټ بک بورډ نه علاوه دې ادیبان،د تعلیم ماهران په مختلفو موضوعاتو د جدیدو تقاضو مطابق اولیکي چې د نجي تعلیمي ادارو ضرورتونه پوره کړي۔

۲۔ کلچر /ثقافت محکمه دې د پښتو اکېډمۍ په علمي مرسته د اصطلاحاتو دډکشنرۍ پراجېکټ شروع کړي ۔ چې پښتو د مارکیټ ژبې جوړېدو ضرورتونه پوره شي ۔

۳- د تعلیم متعلقه محکمه دې د پښتو اکېډیمي پېښوریونیورسټۍ په مرسته پرائمري ، مډل ، هائي سکولونو او کالجونو د استاذانو د پاره د پښتو د صحیح لیک تربیت کرېش پروګرام وچلوي،چې د پښتو د املا مسئله حل شي۔

۴-پښتو اکېډمۍ کښې دې د نورو ژبیو نه پښتو،او پښتو نه نورو ژبیو د ترجمې د پاره د دارالترجمه په نام یو پراجېکټ د مقتدره قومي زبان ،اسلام آباد په مرسته سره بنا ، مستحکم او فعال کړےشي۔

۵-د ثقافت صوبائي او مرکزي حکومتونو سره دې عملي رابطې وکړې شي او د پښتو د متعلقه پراجېکټونو د پاره دې ترې د مالي مرستې تقاضا او مطالبه اوکړې شي۔

۶-د پېښور یونیورسټۍ/کمپیوټر ساینس ډپارټمنټ په مرسته دې انټرنټ دپاره د پښتو مختلف اپلیکېشنز( Applications ) اي بکس، پښتو لغتونه او ونډو سازولو د پاره ګامونه پورته کړې شي۔

۷-د خوشنویسو/خطاطانو/پښتړانو د پاره د صحیح املا لیکلو او پښتو له د ودې ورکولو د پاره د ثقافت د محکمې په مرسته دوه ورځنے تربیتي غونډه تابیا کړے شي۔

۸-مقامي ټي وي،ریډیو،ایف ایم چېنلونو او اخبارونو سره دې د پښتو لیکلو او مارکیټ کښې یقیني کولو د پاره د رابطې اوکړې شي ،د هغوي دې مدد اوکړې شي او د حکومت نه دې د امداد طلب کړې شي ۔ او په نجي ایف ایم چینلونو دې د ژبې د اهمیت په باب خصوصي پېغامونه اوچلولے شي او اشتهارا ت دي په پښتو کښې خوارهٔ کړے شي۔

۹-د پېښور یونیورسټۍ د مارکیټنګ ډیپارټمنټ نه دې د پښتو د مارکیټ د ژبې جوړولو په باب یو پوره لائحه عمل جوړولو د پاره لاس امداد او تکنیکي تعاون واخستې شي۔

۱۰-د چېمبر او کامرس/تاجر ایسوسي ایشن ،پېښوروغېره سره دې د پېداوار او امروزه استعمال په څیزونو پښتو کښې هم پېغامونه لیکل یقیني کړې شي او د هغوي دې تکنیکي مرسته اوکړې شي۔ ۱۱-

دایم فِل او پي ایچ ډي د طالب علمانو موضوعات دي د عام فهم او سیاسي په ځاې د جدیدو ادبي رجحا ناتو او تقاضو مطابق وي،لکه پښتو ته په دې مدونو کښې راپېښ چېلنجونه ،نورو ژبیو سره متقابلي مطالعې وغېره

۱۲- د املا په مسئله اګر که اوس هم د پښتو اکېډمۍ زیارونه دوام لري خو دغه موضوع نور کوشش غواړي چې عامو وګړو ته د لیک لوست مسئله نهٔ وي او املا ئي مشکلات د ژبې د ترویج په لار کښې خنډ نهٔ وي۔

۱۳- پښتواکېډمي ، پښتوډیپارټمنټ ،کابل یونیورسټي ،ګومل یونیورسټي ، بلوچستان یونیورسټي ، باچا خان یونیورسټي ولي خان یونیورسټي ،خوشحال خان خټک او په صوبه کښې موجودې نورې یونیورسټۍ دې د مشترکه لایحۀ عمل د پاره معاهدي لاس لیک کړي او هائر ایجوکېشن کمیشن آف پاکستان ته دې د عملي کولو د پاره سفارشات وړاندې کړے شي او پراجېکټ دې ترې طلب کړې شي۔دعلامه اقبال اوپن یونیورسټي دپاکستاني ژبیو څانګه ، مقتدره قومي زبان او اکادمي ادبیات پاکستان هم دې ضمن کښې مثبت کردار ترسره کولے شي۔

چې دا ټول بحث په نظر کښې ساتو اود پښتو ژبي په مجموعي حالت عموما او په حیثیت د مارکیټ د ژبې خصوصا نظر اچوو نو په دې نتیجه رسو،چې د پښتو په مقابله کښې وړاندې ژبې د هغه وئېونکیو دي چې هغوي د ژوند په نورو شعبو کښې هم د نړۍ د نورو قامونو نه وړاندي دي او په سائنس، ټیکنالوجۍ ، معیشت ، صنعت ، حرفت او تحقیق کښې زمونږ نه ډېر په وړاندې تلي دي ځکه نو د هغوي ژبه هم د مارکیټ ژبه ګرځېدلې ده او د ټېکنالوجۍ سره سره ئې د ژبې په مارکیټ هم قبضه کړې ده۔ چې په مارکیټ کښې دې زمونږ د ضرورتونو سامانونه د هغوي جوړ وي نو ورسره به ژبه هم د هغو وي او رښتیا دا ده

چې مونږ تر اوسه د ایجاداتو په دغه میدان کښې دنیا ته هیڅ نۀ دي ورکړي نو زمونږ ژبه به څنګه د مارکیټ ژبه شي او که مونږ ځان په دې مطمېن کوو چې په کمپیوټر (شمارنده) کښې هم پښتو شته او په سمارټ موبایل فونونو کښې هم نو دا خو د ددغه کارخانه دارو ضرورت دے چې مونږ د هغې اخستلو ته راغب کوي ،عجیبه داده چې مونږ لا تر اوسه خپلو کښې د لهجو باره کښې اختلافات لرو نو دا به د نورو د پاره څنګه ددې جوګه کوو چې هغوي ئې په زده کړه کښې دلچسپي واخلي او ورته د بهر خلقو رسائي اوشي ،دا هڅې او دا تورې به مونږ په خپل ځان وهو ،خپلې ژبې له به ترجیح ورکول وي او د خپلې ژبې کمزورې او پسمانده ګڼلو غلامانه سوچ نه به ځان رابهر کول وي . د سرقې او ادبې خیانتونو نه به هم ځان ساتل وي او په نوو موضوعاتو به د نوو تحقیقي رجحاناتو د کره اصولو په رڼا کښې قلم پورته کول وي.

په اخره کښې ددې ټولو عملیاتو یو بل رخ ته هم اشاره کوو چې په ثقافتي توګه اګر که بین الاقوامیت (Internationalization) دنړۍ تهذیبونو ته خطره راپېښه کړې ده او دبقا دپاره ئې جهد او هڅو کولو باندې مجبوره کړې دي ،ځکه چې حاوي او زورور ثقافتونه کمزورواو وړو ثقافتونو باندې ډیر په تندۍ سره اثرانداز کېږي نو جهد للبقا نور هم ضروري شوے دے ،خو دا مقابله هله کېدې شي چې ژبه په مارکیټ کښې وجود هم لري،د ادب د جدیدو تقاضو سره هم اوږه په اوږه روانه وي او د اخذاو قبول او عطا او انجذاب خوبۍ هم لري. د تغیر او بدلون عمل په بسیاره تېزۍ سره روان دې او په روایتي رفتار سره د برابرۍ حاصلولو هدف نۀ شي حاصلیدې،نو تکنیکي زده کړې به کول وي او په نوو هنرونو به خپلې متې مضبوطول وي ، چې د راپېښو کشالو مقابله وکړې شي او د پرمختګ په دغه مزل کښې وروستو پاتې نۀ شو ،ځکه چې ثقافتي جمودد معاشي ،سماجي او سیاسي جمود باعث جوړیږي.

# References

**1-**Jalalpuri,Ali Abbas,Khiradnama Jalalpuri,Takhleeqat,22-Baigam Road Lahore,Zahid Bashir Printers,Lahore,Makh 6,kaal 2013.

2-Khan,Wahab Aijaz, Tahqeeqee Maqala Baraaye PhD Urdu zaban wa adab ke tarweej main computer softwares Ka kerdar,Shub'a Urdu Jame'a Peshawar,Session 2012-15,Makh 172.

3-Jalapuri,Khiradnama Jalapuri,makh 192

4- Toynbee, Arnold The Industrial Revolution,The Beacon Press,Bostan ,Year-Nil، Pp 75

5-http://en.m.wikipedia.org

6- Ibid.

7- Frank Anshen,Language Planning,The Handbook of Linguistics Edited by Mark Aronoff and Janie Rees-Miller,p 704., Blackwell Publishers,108 Cowley Road, Oxford OX4 IJF,UK,Pp 704.

8- Christoph Gutknecht,Translation,Ibid, Pp 692-693

9- Christoph Gutknecht,Translation,Ibid, Pp 692-693

10- Principles of Marketing,Philip Kotler,Gary Armstrong,Published by Pearson India Education Services Pvt Ltd,7th Floor,Knowledge Boulevard,A-8(A)Sector-62,Noida(U.P)201239,India,Pp-623

11- Information Technology and e-Governance,Jaskiran Kaur,,Random Publications New Dlhi,India.4376-A/4B,Gali Murari Lal,Ansari Road,New Delhi-110 002,Pp 139

12-Ahmed Tawheed"Khetta Yunan"Gujrat ka markaz baray-e- alsena wa eloom trjama,Tarjama ke tadrees,tahqeeq awr targheeb ke wahed Pakistan markaz kee sair,bahawala Fann Tarjam kaari mabahes morattaba Safdar Rasheed Porab Ekademy Islambabd,Tab'a Awwal March 2015 makh 71

13- Universal Translator,Google Translator,Yahoo Bablefish -

14-Chohan,Doctro Hafiz,Muhammad Safwan,Masheene Tarjame kee sohoulyat Urdu ke tanzur main Aik Motale'a Page 327-

15-http://www.pajhwok.com

16-http://en.wikipedia.org او

17-Rasheed,Safdar,Fann-e-Tarjama Kari ke mabahes,Masheeni Tarjame kee soholyat,Urdu ke tanazur main Aik Motale'a,Dr Hafiz Safwan Muhammad Chawhan,Porab Ecademy,March 2015,Makh 366

18- Da Hazara University Dr Assad Shah Jehan sara zama telephone khabarre, 30 July,2018.

19-www.ello.uos.de/field.php/Sociolinguistics

20- Hayat Khan Software Engineer sara zama telephonee Khabarre, July, 2018.

21- Rasheed Ahmad sara zama Telephonee Khabarre, 13 August, 2018.